# د افغانستان اسلامي جمهوریت
## د کابینې مصوبه
## (۸) گڼه
## نېټه ۱۳۹۹/۳/۱۹

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ۱۳۹۹ کال کابینې اتمه غونډه د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني په مشرۍ د غبرگولې میاشتې په (۱۹) نېټه دوشنبې په ورځ له غرمې مخکې د کابینې غړو او والیانو په گډون د ویډیویي کنفرانس له لارې په ارگ کې جوړه او دغه پرېکړې یې وکړې.

**جلالتمآب ولسمشر پیلیزې خبرې او له اجنډا مخکې ځینې مهمې موضوع گانې:**

- په ځینو ولایتونو کې د هیواد په امنیتي او دفاعي ځواکونو د هیواد د دښمنانو بریدونه غندنه؛
- د کابل وزیر محمد اکبرخان پر جومات د ترهگرې برید غندنه، چې پایله کې یې استاد مولوي محمد ایاز نیازی شهید او د مرحوم کورنۍ، افغان ولس،عالمانو، اکاډمیکې ټولنې او په ځانگړې توگه کابل پوهنتون اکاډمیکې ټولنې سره د غمرازي ښکاره کول؛
- د ایران هیواد یزد ښار کې د کډوالو وړونکې موټر سوځېدلو زړه بگنونکې پېښې رامنځته کېدلو له امله د ژورې اندېښنې څرگندول او په بیړنۍ توگه پېښې ته د رسیدنې او تعقیب په اړوند د بهرنیو چارو سرپرست وزیر څخه مننه کول او د یادې پېښې حل په اړوند په ډیپلوماټیکو لارو ټینگار؛
- د سید عبدالرحیم عاصمي د حلیفه صاحب نوین صیب د مړینې له امله د مرحوم کورنۍ، افغانستان ولس،د هیواد روحاني ټولنې او په ځانگړې توگه هرات ولس سره د عمرازي ښکار کول؛
- د هغو روغتیایي کارکوونکو کورنیو ته، چې د کرونا وېروس سره د مبارزې له امله ساه ورکوي؛ د شهادت حقونو په بیړنۍ ورکړې ټینگار؛
- هیوادوالو ته د وچې ډوډۍ ویش غوره مدیریت امله د جمهوري ریاست لومړي مرستیال، کابل ښاروال او والیانو څخه مننه کول او ددې برنامې پایته رسیدلو اعلان؛
- اړمنو هیوادوالو ته د مرستو کڅوړو په توگه د مرستو ویش (لاسرسي یا دسترسي) برنامې پیژندنه او په نژدې راتلونکي کې په دوو پړاوونو کې ددې برنامې؛ لومړۍ په ولسوالیو او بیا په ټولو ولایتونو کې پیل؛
- د هلمند، فراه او نیمروز کرنیزو حاصلاتو (په ځانگړې توگه هندوانې) په اړوند د دولت اخیستل شویو گامونو په اړه معلومات وړاندې کول او د دولت له لوري په ټولو ولایتونو کې د کرنیزو محصولاتو بازار موندنې په موخه د تولید کوونکو ټولنو په جوړولو ټینگار؛
- د عامې روغتیا، ښار جوړولو او ځمکو او ښځو چارو سرپرستانو او نوماند وزیرانو ته د ا.ا.ج کابینې غونډه کې د گډون امله ښه راغلاښت ویل؛

**د اجنډا لومړی موضوع:** د طبابت(درملنې) اخلاقو مقررې طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدلیې وزیر؛

**موخې:** د ناروغانو حقوقو او خوندیتوب ټینگښت، د ډاکټرانو او روغتیایي کارکوونکو له حقوقو او مسلکي خوندیتوب څخه ملاتړ، د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو ښه والی، د ډاکټرانو روزنیزو او مسلکي پروگرامونو پراختیا او لوړول.

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱ | د طبابت( درملنې) اخلاقو مقررې طرحه په اصولو کې تصویب ده؛ عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې یاده طرحه دجمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې د اړونده ادارو په گډون کمیټه کې د عامې روغتیا، لوړو زده کړو او کډوالو چارو او د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیرانو نظرونو او لاندې ټکو پام کې نیولو سره سمه او نهایي کړي:<br>- د ناروغانو حقونو ساتنې په پام کې نیولو سره د مقررې په نوم بیاځلې کتنه؛<br>- د فساد مخنیوي په موخه د دولتي مراجعو په وسیله د سند ارزونې او تائید ته په کتو سره په دریمه ماده کې د طب ډاکټر روښانه تعریف؛<br>- د انگریزي اصلاحاتو په ځای د هیواد ملي ژبو معادلو کلمو څخه گټه اخیستنه؛ | یوه میاشت |

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| | - د درملنې ځایونو( کتنځای او کلینکونو) لپاره د روښانه معیارونو جوړول؛<br>- د ډاکټرانو له لوري د نا اړینو درملو مخنیوي او نه ورکړې څرنګوالی؛<br>- په خصوصي روغتیایي مرکزونو کې د جګړېزو پیښو له امله د ملکي او دفاعي او امنیتي ځواکونو ټپیانو درملنې او فیس کمښت په موخه د اسانتیاو رامنځته کول؛<br>- د درمل پلورونکو سره د ډاکټرانو یو لاس کېدلو مخنیوي په موخه د تادیبي او جریمو حکمونو ځای پر ځای کول؛<br>- د ډاکټرانو په وسیله د نسخې لیکلو ډول (کمپیوټري نسخې ته لومړیتوب) اصلاح په موخه د حکمونو ځای پر ځای کول؛<br>- په روغتیایي کارکوونکو له برید څخه د مخنیوي په موخه د تادیبي حکمونو ځای پر ځای کول؛ | |

**د اجنډا دویمه موضوع:** د نرسانو او قابلو شورا مقررې طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدلیې وزیر؛

**موخې :** د نرسانو او قابلو په شورا کې د اړونده چارو تنظیم، د روغتیایي خدمتونو د ترلاسه کوونکو د مصؤنیت او روغتیایي حقوقو ټینګښت، د نرسانو او قابلو لپاره د معیاري ښوونې زمینې برابرول او د نرسانو او قابلو مسلکي حقوقو تأمینول.

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۱-۲ | د نرسانو او قابلو شورا مقررې طرحه په اصولو کې تصویب ده؛ عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې یاده طرحه د لوړو زده کړو،د عامې روغتیا وزارتونو او جمهوري ریاست چارو اداري لوی ریاست په ګډون غونډه کې په لاندې توګه سمه او نهایي کړي:<br>- شپږمې مادې(۴) بند کې د دولتي ازمویني (Exit Exam) اخیستلو متن د کار موندنې جواز ازموینې (License Exam) په متن سمول؛<br>- د شپږمې مادې( ۷ )بند دې په « د لوړو زده کړو وزارت سره د نرسانو او قابلو تحصیلي نصاب برنامو د څارنې مرسته» متن تعدیل شي؛<br>- د لوړه زده کړو قانون حکمونو پام کې نیولو په موخه د مقررې شپږمې مادې ۸ بند له منځه وړل؛<br>- د شپږمې مادې( ۱۱) بند د تادیبي مناسبو اقداماتو نیول دې د اړونده مراجعو قوانینو او مقرراتو پام کې نیولو سره تعدیل شي.<br>- د اوومې مادې دویمې فقرې( ۴ ) بند دې په « په ملي ژبو تسلط او په انګریزي ژبه بلدتیا» متن تعدیل شي؛<br>- د اتمې مادې لیکل شوي بورډ په جوړښت کې د لوړو زده کړو وزارت استازي زیاتول؛<br>- د اتمې مادې (۸) بند دې په « د کابل طبي پوهنتون د نرسنګ او قابلګي څانګې مسؤولین د غړو په توګه» متن تعدیل شي؛<br>- ددې مقررې موخې دې په داسې ډول تنظیم شي؛ ترڅو د روغتیایي خدمتونو ترلاسه کوونکو حقوقو ملاتړ ترڅنګ د نرسانو او قابلو ملاتړ او خوندیتوب یادونه هم وشي.<br>- د دریمې مادې (۵) بند کې دې د مسلکي پرله پسې پرمختیا ( Continuous Professional Development) ترڅنګ د روغتیایي کارکوونکو علمي او عملي پوهې نوی توب او پرمختیا (Continuous Medical Education – CME) بهیر یادونه وشي؛<br>- د نرسانو او قابلو ډیرې هڅونې په موخه دې د هڅونې لړیو لقبونو نومونه هم واخیستل شي؛<br>- د شپږمې مادې (۱۰) بند کې دې د شکایتونو او نرسانو مسلکي تیروتنې څېړنې یو منظم میکانیزم جوړولو یادونه وشي.<br>- د یوولسمې مادې (۳) بند داسې تنظیم شي، چې دشورا اړونده پالیسۍ، ستراتیژۍ او لارښودونه د تصویب په موخه کابینې ته را واستوي.<br>- نوولسمه مادې کې دې یوه فقره داسې تنظیم شي، چې د شورا ټول عواید مستقیم د شورا بانکي واحد حساب ته ولیږدول شي؛<br>- په نوولسمه ماده کې دې یوه فقره د روڼتیا او حساب ورکولو په موخه زیاته کړل شي؛ ترڅو شورا د کلنۍ عوایدو په اړه راپور وړاندې کړي. | دري اوونۍ |

| د کابينې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۲-۲ | د عامې روغتيا سرپرست او نوماند وزير د غوښتنې سره سم د نرسانو او قابلو عالي شورا په جوړښت کې د نرسانو رياست او قابلو رياست لپاره دويم بست تصويب ده؛ عامې روغتيا وزارت دې د پريکړې سره سم کړنې ترسره کړي. | - |

**د اجنډا درېيمه موضوع:** د هيواد د نورو واليانو په استازيتوب د هرات والي د وړاندې شويو وړانديزونو او خبرو په اړوند پريکړې؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی سيد عبدالوحيد قتالي د هرات والي؛

| د کابينې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۳ - ۱ | د کرونا وېروس خپراوي څخه د مخنيوي بيړنۍ ملي کميټې ته دنده سپارل کيږي، چې د ډيرې هغمړي په موخه د امکان په صورت کې د ويډيو کنفرانس (VTC) له لارې د کميټې غونډو کې د واليانو ګډون زمينه برابره کړي. | - |
| ۳ - ۲ | عامې روغتيا وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د کرونا سره د مبارزې غوره مديريت لپاره د واليانو له تجربو څخه د ګټې اخيستنې او د ولايتونو ستونزو حل په موخه د هغوی سره د ويډيو کنفرانس (VTC) له لارې ځانګړې غونډه جوړه کړي. | دوه اوونۍ |
| ۳ - ۳ | واليانو ته دنده سپارل کيږي، چې د کرنيزو محصولاتو ته د بازار موندنې او بزګرانو ستونزو حل په موخه د دولت ډيرو ګامونو اخيستلو لپاره د توليد کوونکو ټولنې جوړې؛ ترڅو د هغوی سره په پوهاوي د ملي تدارکاتو ادارې له لارې لازم ګامونه واخيستل شي. | درې اوونۍ |
| ۳ - ۴ | سيمه ييزو ارګانونو ته دنده سپارل کيږي، چې د واليانو په مرسته په ولايتونو کې د پروژو چارو پرمختګ وضعيت څرنګوالي ته په کتو سره د ننګونو او حل لارو سره يو ځای د پرمختيايي پروژو هر اړخيز راپور چمتو او د حکومت رهبري غونډې ته د وړاندې کولو په موخه يې د جمهوري رياست چارو ادارې لوی رياست ته را استوي. | يوه مياشت |

**د اجنډا څلورمه موضوع:** د هيواد د (۸۰) تنو اتباعو تابعيت پريښودل؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدليې وزير؛

| د کابينې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۴ | د افغانستان د(۸۰) اتيا تنو اتباعو د تابعيت پريښودل په لاندې ډول سره تصويب دی:<br>- شوکت علي د عبدالواحد زوی د محمد اسحق لمسی، اوسنی استوګنځای اتريش هيواد.<br>- محمد جواد د عبدالقادر زوی د عالم فقير لمسی، اوسنی استوګنځای جاپان هيواد.<br>- روح الله د محمد يونس زوی د محمد ايوب لمسی، اوسنی استوګنځای اتريش هيواد.<br>- علي رضا د جمعه زوی د طراب لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- مريم د سيد مصطفی لور د سيدعظيم لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- علي د محمد زوی د رحيم لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- جميله روحاني د داود روحاني لور د محمد شاه لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- مصطفی نوزهی د موسی جان زوی د نيک محمد لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- مير اکبر د علي ياور زوی د عبدالعلي لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هيواد.<br>- لطيفه اسلم د قچقار لور د آدينه محمد لمسی، اوسنی استوګنځای اتريش هيواد.<br>- آمنه ملايم د خير محمد لور د برات محمد لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- فيام د بسم الله زوی د عبداللطيف لمسی، اوسنی استوګنځای روسيه هيواد.<br>- پريسا د ولي محمد لور د محمد حکيم لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- مژګان د محمد علي لور د محمدسخي لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هيواد.<br>- فاطمه جعفري د جمعه لور د طراب لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- احمد روحاني د داود روحاني زوی د محمد شاه لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- محمد ميلاد نظري د عبدالصمد زوی د پاينده قدم لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- فاطمه د محمدعلي لور د محمدسخي لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هيواد.<br>- مينا شريفي د امين الله لور د حبيب الله لمسی، اوسنی استوګنځای ايران هيواد.<br>- رضا بصير جميلي د صفر محمد زوی د سکندر لمسی، اوسنی استوګنځای اتريش هيواد.<br>- ترينا د عبدالقيوم لور د عبدالحکيم لمسی، اوسنی استوګنځای اوکراين هيواد. | - |

| د کابینې پریکړه : | موده |
|---|---|
| - حبیب الله د محمد صدیق زوی د عبدالقادر لمسی، اوسنی استوګنځای هالند هیواد.<br>- فاطمه دهقان د عبدالله لور د خدایداد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- ابراهیم شلمان د محمد اکرم زوی د سرور لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- سمیه غلامي د نظرمحمد لور د غلام محمد لمسی، اوسنی استوګنځای هالند هیواد.<br>- پروانه د محمد موسی لور د عبدالوهاب لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- محمد فیروز د محمد طاهر زوی د محمد رفیق لمسی، اوسنی استوګنځای روسیه هیواد.<br>- حسن احمدي د اسدالله زوی د عوض علي لمسی، اوسنی استوګنځای اتریش هیواد.<br>- نورمحمد د محمد زوی د علي محمد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- ګیهځ د کنشکا زوی د غلام دستګیر لمسی، اوسنی استوګنځای روسیه هیواد.<br>- محمد سعید د محمد رفیع زوی د حاجي محمد محسن لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- علي یعقوبي د محمدرضا زوی د نادرعلي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- مهدي حیدري د ابراهیم زوی د موسی لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- سید امید هاشمي د سید اسکندرشاه هاشمي زوی د سید شرین شاه لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- بزیره د عبدالقیوم لور د محمد سرور لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هیواد.<br>- مجید صالحي د غلام سرور زوی د کریم لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- سید محمد د سید کریم زوی د سید علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- معصومه جباري د غلام محمد لور د ریکاب علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- معصومه احمدي د باقر لور د علي احمد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- احمد زکي فایز ژګان د احمدضیا زوی د عبدالغفور لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- عبدالله د عیسی خان زوی د عبدالرحمن لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- عبدالروف د کاظم علي زوی د عبدالحسین لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هیواد.<br>- سید عمر د امیرخان زوی د سرور لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هیواد.<br>- مرتضی عسکري د فضل احمد زوی د غلام علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- جلال یوسفي د ولي محمد زوی د دین محمد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- محمد جواد د محمد آقا زوی د غلام سخي لمسی، اوسنی استوګنځای اتریش هیواد.<br>- حسین صالحي د محمد رضا زوی د حسن لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- محمود د عبدالجبار زوی د عبدالحمید لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هیواد.<br>- محمد مهدي د امیرالله زوی د عبدالقدوس لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- مصطفی طرفدار د میرویس زوی د امان الله لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- فرشاد عطائی د وحیدالله زوی د محمد علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- وحید د ولي محمد زوی د محمد حکیم لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- سمیه میرزایي د محمد علي لور د جان علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- عنایت الله صفازاده د محمد علي زوی د محمد اسماعیل لمسی، اوسنی استوګنځای روسیه هیواد.<br>- خواجه ګل محمد د خواجه خیرالدین زوی د خواجه محمود لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هیواد.<br>- محمد عبدلي د قاسم زوی د رستم لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- احمد امیني د عبدالله زوی د شهسوار لمسی، اوسنی استوګنځای اتریش هیواد.<br>- رضا رحیمي د کاظم زوی د محمد حسین لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- حامد سفر د عبدالفتاح زوی د عبدالحکیم لمسی، اوسنی استوګنځای اتریش هیواد.<br>- میثم د محمد علي زوی د محمد سخي لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هیواد.<br>- بشیراحمد د میرزاغلام رسول زوی د حاجي علی محمد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- طیبه رجبي د سرور لور د رجب لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- اسحق د حسین علي زوی د محمد علي لمسی، اوسنی استوګنځای اتریش هیواد.<br>- جواد امیري د علي امیري زوی د خداینظر لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- امیر عباسي د بشیر احمد زوی د علي محمد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- حمید صالحي د غلام سرور زوی د کریم لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- سید ایمان هاشمي د سید اسکندر شاه هاشمي زوی د سید شرین شاه لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد. | |

Administrative Office of the President

| د کابینې پریکړه : | | موده |
|---|---|---|
| | - فیض الرحمن بداخیل دسیف الرحمن بداخیل زوی د ولي محمدخان لمسی، اوسنی استوګنځای اتریش هیواد.<br>- عمران کاکر د محمد هارون زوی د غلام داود لمسی، اوسنی استوګنځای هالند هیواد.<br>- محمد امیری دعلي امیري زوی د خداینظر لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- ابوالفضل بیات د محمد عارف زوی د حسن علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- احمد فرزاد د سلطان احمد زوی د شیراحمد لمسی، اوسنی استوګنځای قزاقستان هیواد.<br>- زهرا دهقان د عبدالله لور د خدایداد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- ګل محمد رحیمي د محمد علي زوی د عبدالاحمد لمسی، اوسنی استوګنځای اتریش هیواد.<br>- محسن د محمد علي زوی د غلام حسن لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- قاسم جباري د غلام محمد زوی د ریکاب علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- مجید جمشیدي د رمضان زوی د عظیم لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- هادی حیدري د ابراهیم زوی د موسی لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- منیژه سخي زاده د شمس الحق لور د سخیداد لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>- زینب اخلاقي د خادم حسین لور د حسین علي لمسی، اوسنی استوګنځای ایران هیواد.<br>عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د تابعیت قانون سره سم د پورته یاد شویو کسانو افغاني تابعیت پرېښودل نهایي کړي. | |

**پنځمه موضوع:** بیلابیلې پریکړې:

| د کابینې پریکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۵ - ۱ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د اړونده بنسټونو په مرسته د هغو روغتیایي کارکوونکو کورنیو ته، چې د کرونا ویروس سره د مبارزې له امله یې ساه ورکړې د ا.ا.ج کابینې ۱۳۹۹/۱/۲ نیټې غونډې (۱) ګڼې مصوبې کې (افغانستان کې د کرونا ویروس سره د مبارزې ګمارل شوي روغتیایي کارکوونکو لپاره د ځانګړو امتیازاتو تصویب شوې طرحې) موادو او د تقنیني سندونو پام کې نیولو سره د شهادت حقونو ورکړې په چټک ګامونه اخلي. | عاجل |
| ۵ - ۲ | دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ته دنده سپارل کیږي، چې د یوې اونۍ په اوږدو کې د هیواد دفاعي او امنیتي ځواکونو شهیدانو او ټپیانو ته د رسیدنې هر اړخیز راپور چمتو د کره ورانـدیزونو سره یوځای د ملي امنیت شورا ته وړاندې کړي. | یوه اونۍ |
| ۵ - ۳ | بهرنیو چارو وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې ایران هیواد ته د افغان کارګرانو ناقانونه سفر مخنیوي په موخه د هغوی قانوني تګ راتګ اسانتیاو څرنګوالي برابرولو په اړوند د ډیپلوماتیکو لارو ایران هیواد سره پوهاوی وکړي. | دوه اونۍ |
| ۵ - ۴ | د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د کورنیو چارو او اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونو په مرسته ګاونډیو هیوادونو ته د هیواد اتباعو ناقانونه سفرونو مخنیوي په موخه د ټولنیزو رسنیو له لارې کمپاین په لاره واچوي. | - |
| ۵ - ۵ | ددې لپاره، چې د اجرائیه او مقننه قوې د اړیکو ټینګښت په پارلماني چارو کې د دولت وزارت له دندو څخه ګڼل کیږي؛ نوماند وزیران د ملي شورا غړو سره له فردي لیدنو څخه ډډه کوي او د مقننې قوې اړیکو ټینګښت روښتیا اغیزمنتوب په موخه په پارلماني چارو کې د دولت وزارت له لارې ګامونه اخلي. | - |
| ۵ - ۶ | مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د وزارتونو او دولتي ادارو حواله جاتو ترسره کولو څرنګوالي په اړوند تفصیلي راپور د هیواد د عوایدو راپور سره یو ځای هره میاشت کابینې غونډې ته وړاندې کړي. | هره میاشت |
| ۵ - ۷ | د ملي تدارکاتو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې ملي تدارکاتو کمیسیون ته د وزارتونو او دولتي ادارو هغو شمیر راغلو پروژو پراوونو تیرولو څرنګوالي هر اړخیز راپور د ننګونو او حل لارو سره یو ځای چمتو او هره میاشت دې د کابینې غونډې ته وړاندې کړي. | میاشت کې یو ځلې |
| ۵ - ۸ | سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د زونونو په بنسټ د ولایتونو کاري راپور ترلاسه د ننګونو او حل لارو سره یو ځای له یو کیدو وروسته د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | میاشت کې یو ځلې |

| د کابینې پریکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۵ - ۹ | عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د لوړو زده کړو، اطلاعاتو او فرهنګ وزارتونو او افغانستان علومو اکاډمی په مرسته د پښتو او دري تقنیني سندونو لیکلي متنونو ټکرونو له منځه وړلو په موخه د روښانه او عامه فهم والي په اړه ګامونه اخلي او د بهرنیو کلمو کارونې پرځای د هیواد ملي ژبو پر معادلو کلمو تمرکز وکړي. | - |
| ۵ - ۱۰ | وزارتونو او دولتي ادارو ته دنده سپارل کیږي، چې د کابینې غونډو کې د وخت غوره مدیریت او ډیرو بحثونو مخنیوي په موخه د تقنیني سندونو مسودې جوړونې په وخت کې عدلیې وزارت د قانون جوړونې، علمي – حقوقي څیړنو انستیتوت ته خپل واک لرونکي مسلکي استازي په دایمي توګه ور پیژني. | - |
| ۵ - ۱۱ | وزارتونو ته دنده سپارل کیږي، چې خپل میاشتني کاري راپورونه چارو ادارې لوی ریاست ته را استوي او د اړتیا په صورت کې به د چارو ادارې لوی ریاست د وزارتونو راپورونه کابینې غونډې ته وړاندې کړي. | هره میاشت |
| ۵ - ۱۲ | د چارو ادارې لوی ریاست ته دنده سپارل کیږي، چې عامې روغتیا او مالیې وزیران په ګډون د عامې روغتیا سکتور بودجې بحث پر موخه د لومړیتوبونو، تدارکاتي ستونزو له منځه وړلو او نورو اړونده موضوع ګانو په اړه د حکومت رهبري ځانګړې غونډه جوړه کړي. | یوه اوونۍ |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري ریاست چارو ادارې لوی ریاست د کابینې چارو سمون ریاست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**